# الحاج الهام الدين قیام



## جان کيري !

جان کیری! چی ستنیږی ، خپل سوغات درسره یوسه
مونږستا له خیرات تیریو، خپل خیرات درسره یوسه

له زهرو او زقومو نه زهرجن موهر کومک دی
په زهرو ککړ خپل قند او نبات درسره یوسه

دا دولس کاله تاسو ، مونږته هر پسات راوړی
لږ رحم په مونږ وکړه ، خپل پسات درسره یوسه

د ژوند په هره برخه کی مو ، مونږته آفات راوړل
نور ټول درسره بار کړه ، خپل آفات درسره یوسه

مونږ نور ، ستاسو بوټانو ته سجدی کولای نه شو

**نور خپل لات او منات او سومنات درسره یوسه**

**مونږ جنګ ته لمن نه وهو،مونږسوله مدام غواړو**
**ولس ته دی زمونږ د ولس ،نیات درسره یوسه**

**مونږټولو قیام کریدی، له جنګه خلاصون غواړو**
**اوباما ته مو ، دغه تمنیات در سره یوسه**

**والدورف/جرمنی**
**۲۰۱۴/۰۸/۰۸**